احسان الله آرینزی ۲۰۱۷/۰۲/۰۷

«زهره»او «داوس»

په تېرو څو ورځو کې د افغانستان د ملي موسیقي انستیتوت (زهره) ډلې اروپا ته یو ښکلی او بریالی هنري سفر درلود.

دا انستیتوت په کال 1389 هه ش کې د افغانستان د اسلامی جمهوری دولت د پوهنې وزارت له خوا د موسیقي د هغه ښوونځي په ځای جوړ شو چې په 1352 هـ - ش کې پرانستل شوی او په 1371 هه ش کی د پردیو په اشاره د تنظیمي خونړیو جګړو له امله وران شوی و.

په افغانستان کې د پخواني پاچا اعلحضرت محمد ظاهر شاه د واکمنی په ډېر وروستي کال کې، د کابل په ده بوري سیمه کې د موسیقي ښوونځی پرانستل شو. دې ښوونځي دنده درلوده چې د کورنیو او بهرنیو مسلکي استادانو په مرسته، د پوهنې وزارت په چوکاټ کې داسې ځوانان وروزي چې موسیقي په نظري او عملي بڼه ولولي او زده کړی وکړی، د افغانستان اصلي موسیقي ته وده ورکړي او زموږ له کلیو او باندو څخه د خلکو سندرې ثبت او په نوې توګه نشر ته چمتو کاندي.

دا ښوونځی له بده مرغه له نولس کاله ګټور فعالیت څخه وروسته، د تنظیمي جګړو په بدمرغه کلونو کې لومړی بند او بیا وران شو او د فغانستان د موسیقي په برخه کې یوازنې تعلمي مرکز له خاورو سره برابر شو.

دا ښوونځی بیا له نولسو کلونو ځنډ وروسته، په کال 1389 هه ش کې د افغانستان د موسیقي انستیتوت په نامه، په همغه پخوانی سیمه؛ خو نوې ودانی کې پرانستل شو چې څه بهرنی ملاتړ یې هم درلود.

د افغانستان د موسیقي د نامتو استاد، اروابناد سلیم سرمست زوی، ښاغلی احمد ناصر سرمست، د دې ښوونځی د بیا پرانستو، پرمختګ او غوړیدا کلک ملاتړی او ملګرو و. نوموړی تر اوسه دا دروند مسوولیت په غاړه لري. اوس دې انستیتوت ډېر بریالیتوبونه ترلاسه کړي او ستری لاسته راوړني لري.

د افغانستان د ملی موسیقي انستیتوت هڅه کوي چې د کورنیو او بهرنیو استادانو په مرسته، تنکیو جنکو او هلکانو ته موسیقي په علمي او اکاډمیکه توګه تدریس او دوی د دې جوګه کړي چې د هیواد موسیقي ته داسې منظمه وده ورکړي چې هم زموږ فولکلوریکه موسیقي ژوندی پاته شي او هم مو نوی موسیقي ابتکاري، خوږه او په زړه پوري وي! ډېری دا هلکان او جنکی له بیوزله کورنیو څخه ټول شوی او یا هغه یتیمان دی چی پخوا یی په سړکونو کار کاوه؛ خو اوس د دی انستتیوت په برکت زموژ په ویادونو بدل شوی.

د افغانستان د ملی موسیقي انستیتوت د نجونو یو ارکستر لري چې شمېر یې 35 او عمرونه 13 – 20 دي.
دې ارکستر چې (زهره) نومي، د جنوري په 19 سویس ته سفر وکړ او د جنوري په 20 یې په (داوس) ښار کې د اقتصاد نړیواله غونډه په خپله هنری ننداره پای ته ورسوله.

په هغه موسیقي کې چې د زهری نجونو په داوس کې وغږوله، د ختیځې او لویدیځې موسیقي یو مناسب تلفیق تر سترګو کیده. دوی هم سوچه افغاني نغمې واورولې او هم یې د (بتهون) (د ښادي سندره) وغږوله چې دواړه د (داوس) غونډې د سلګونو برخه والو نړیوالو شخصیتونو خوښې شوی، کدونوالو افغانی تنکیو موسیقی غژونکو ته لاسونه وپړکول او د دوی د درناوی له پاره په ښنو ودریدل.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د زهره ارکستر پیغلو چې ښایسته وطني جامې اغوستې وې او پوړني په سر وو، نړیوالو ته وښوده چې افغانستان له څلویښتو کلونو تحمیلي جګړو وروسته او د بنسټپالو د خونړیو واکمنیو سره – سره ژوندی دی، په مخ خوځي او په مدني برخه کې نوي بریالیتوبونه ترلاسه کوي.

ښکاره خبره ده چې په افغانستان غوندې وروسته پاته ټولنه او د بنسټپالو د واکمنیو په تورو ورځو کې، دا نجونې د ځور، وهلو، ټکولو او حتی مرګ له وېرې سره مخامخ دي؛ خو په (داوس) کې د موسیقي انستیتوت مشر ډاکټر احمد ناصر سرمست د نړۍ د اقتصادي غونډې برخه والو ته وویل چې دا نجونې د افغانستان د امیدونو د بلنده مشالونو په توګه، د هغه مثبتو پرمختګونو استازی بلل کېږي چې د خلکو او په تېره بیا ځوان نسل د کار او مبارزې له امله لاس ته راغلي او دا به دوام مومي. دا نجونې د افغانستان ویاړونه دي!

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ